## الدرس السادس — شپږم درس

### الحساب — حساب کتاب

د قیامت په ورځ به خلق ډیر تګی کیږی ، دغه ورځ پنځوس(٥٠) زره کاله ده ، په مؤمن باندی به ډیره زر تیره شی لکه د فرض مونځ پشان ، او رسول اللهﷺ به حوض ته راشی چی دا د الله تعالی ډیر لوئی نعمت دی ، الله زمونږ نبی کریم ﷺ ته ورکړی دی چی خپل امتیانو له به د قیامت په ورځ اُوبه ورکوی ، چی اُوبه ئے د پیو نه سپینئ دی ، او د شهدو نه خوږی دی، او د مشکو نه خوشبویه دی ، د آسمان د ستورو په مقدار ئے جامونه دی ، او چا چی یو ځل دا اوبه وڅښکلې بیا به چرته تګی نه شی ،ټول خلق به میدان محشر کښې د حساب کتاب انتظار کښې ولاړ وی ، ګرمی به وی، آخر به تنګ شی، د داسی چا په تلاش به وځی چه زمونږه دپاره تلاش وکړی ، آدم علیه السلام ته به راشی هغه به معذرت پیش کړی ، بیا به نوح علیه السلام له بیا ابراهیم علیه السلام بالآخر به محمد رسول الله ﷺ له راشی ، هغه به ورته ووائی : آو، دا زما مقام دی ، رسول الله ﷺ به د عرش د لاندی په سجده پریوځی او د الله تعالی داسی حمدونه او ثناګانئ به ووائی چی مخکښې ئے ندي وئیلی ، بیا به الله تعالی ارشاد وفرمائی : اے محمد ! سر اوچت کړه ، غواړه درکیدلے به شی ، او شفاعت کوه شفاعت به دِی قبلیږی ، بنده سره به په عملونو کښې اول حساب د مونځ کیږی ، که مونځ برابر وو او قبول شو ، بیا به په نورو عملونو کښې غور کیدلي شی ، او که مونځ کښې نقصان وو ، نو بیا به نور اعمال هم مردود وی ، د هر بنده نه به د پنځو څیزونو تپوس ضرور کیږی، عمر دِي په څه کي تیر کړو ، ځوانی دِي څه کښې تیره کړی ده ، مال دِي چرته نه ګټلے وو ، او چرته دِي مصرف کړی دی ، او علم باندي دِي څومره عمل کړي وو ، او د ټولو نه اول به د وینئ په باره کښې حساب کیږی ، او فیصله به د نیک عمل اخستلو او یا د هغه ګناهونه په مجرم باندی بار کیدلو په صورت کښ کیږی ، د جهنم دپاسه یو پل جوړکړي شوی دی چی د ویښته نه باریک دی ، د توری نه تیره دی ، خلق به د خپل عمل مطابق ورباندی تیریږی ، څوک به د سترګے د رپ پشان ، او څوك د هواء پشان، او څوک د تیز رفتار آس پشان، او څوك به په خپوړو(ګونډو) باندی روان وي، او د پل په غاړو باندی کنډی دی چی کافران او ګناهګار به جهنم ته غورځوی، کافر به همیشه په اُور کښې وی او ګناهګار چی کله الله وغواړی د اُور نه به ئے رابهر کړی او جنت ته به ئے داخل کړی .انبیاء کرامو ، رسولانو، او مؤمنانو کښې الله تعالی چی چاله اجازت ورکړی هغوی به د ګناهګارو مؤمنانو دپاره شفارس کوی ، څوک چی پل صراط باندی پوری وځی هغه به جنت ته داخلیږی ، لیکن دوی به د جنت او جهنم په مینځ کښې یو پل باندی هیسار کړی چی د یو بل نه بدلے واخلي، هغه کس به جنت ته نشی تللے ترڅو چی یو بل ته زړونه صفا نکړی . جنتیان به جنت ته لاړشی او جهنمیان به جهنم ته لاړ شی، مرګ به د یو ګډ په شکل کښې راوستلی شی ، او د جنت او جهنم مینځ کښې به ذبح کړی شی، جنتیان او جهنمیان به دا منظر ګوری ، او بیا به آواز وکړی شی چی جنتیان به جنت کښې همیشه وی ، او جهنمیان به جهنم کښ همیشه وی، بیا که مړکیدل وی، نو جنتیان به د خوشحالئ نه مړه شوی وی، او که مرګ وی نو جهنمیان به د غم نه مړه وی .